# د ګټو د مرجع لارښود

**کیدای شي له تاوتریخوالي ډکو جرمونو قربانیان په توله کې د خپل ځان د بیرته رغېدو لپاره تر $70,000 پورې د زیان جبران ترلاسه کړي.**
**دا لارښود تاسو ته وایي چې:**
• *څوک کولای شي ګټې ترلاسه کړي* • *دوی کولای شي څومره ګټې ترلاسه کړي* • ***CalVCB** کومو معلوماتو ته اړتیا لري* •

## څوک کولای شي ګټې ترلاسه کړي؟

**V** **د جرم له امله په مستقیم** ډول قرباني شوی کس هغه څوک دی چې فزیکي زیان یې لیدلی وي، په زیان رسولو باندې ګواښل شوی وي یا د جرم له امله مړ شوی وي.

**D** **یو فرعي قرباني، اصلي قرباني ته د زیان** رسېدو یا مړینې له امله یو شمېر لګښتونه ترسره کوي. دا کیدای شي د کورنۍ غړی، هم اتاقي یا پاملرونکی(ې) وي.

**P** **ادا کوونکی هغه کس** ته ویل کېږي چې د جرم اړوند لګښتونه ادا کوي یا د هغوی مسوولیت په غاړه لري.

| د بیاادایني ډول | څوک په شرایطو برابر دي؟ | ډېر تر ډېره ګټې |
|---|---|---|
| ***جنازه او/یا خښول*** | P | **تر $12,818** |

**د هغو شیانو بیلګې چې موږ ورته اړتیا لرو:**
- داسي سند چې ثابت کړي چې د قرباني مړینه د داسې جرم له امله ده چې د جزا وړ جرم ګڼل کېږي.
- د جنازې یا د خښولو د مراسمو اړوند لګښتونو رسیدونه. همداراز، کیدای شي د خدمتونو چمتو کوونکي په مستقیم ډول CalVCB ته بل واستوي.

| د بیاادایني ډول | څوک په شرایطو برابر دي؟ | ډېر تر ډېره ګټې |
|---|---|---|
| ***طبي او د غاښونو د درملنې لګښتونه*** | V P | **تر $70,000 پورې** |

**د هغو شیانو بیلګې چې موږ ورته اړتیا لرو:**
- د جرم د راپور یا طبي/د غاښونو د درملنې د سوابقو څخه ثبوت چې ښيي طبي/ د غاښونو د درملنې خدمتونو ته اړتیا ده.
- د دې ثبوت چې طبي وسایل اخیستل شوي، ورک شوي، زیانمن شوي، له منځه تللي دي یا د جرم له امله اوس ورته اړتیا شته ده.
- د ډاکټر یادښت، که په کور کې د پاملرنې خدمتونو ته اړتیا وي، چې د پاملرنې د اړتیا مودې وخت پکې مشخص شوی وي او دا هم پکې ذکر وي چې د کورنۍ د غړي یا بل کس له خوا پاملرنه له طبي پلوه اړینه ده.
- د غاښونو درملنې بلونه باید د [امریکا د غاښونو ټولنې] د ادعا په فورمه کې وړاندې شي.

| د بیاادایني ډول | څوک په شرایطو برابر دي؟ | ډېر تر ډېره ګټې |
|---|---|---|
| ***د رواني روغتیا درملنه*** | V D P | **تر 60 ناستو پورې او تر $10,000 پورې، لکه څنګه چې په لاندې برخه کې تشریح شوي دي.** |

**V** **د ناستو محدودیت:**
- 60 ناستې

**D** **د ناستو محدودیت:**
- 60 ناستې که چېرې مستقیم قرباني د جرم له امله مړ شوی وي.
- 50 ناستې که چېرې فرعي (غیر مستقیم) قرباني د جرم په وخت کې کمعمره (نابالغ) وي.
- 50 ناستې که چېرې فرعي (غیر مستقیم) قرباني د جرم په وخت کې د مستقیم قرباني اصلي پاملرونکی وي. دا د دوو پالونکو لپاره په ټولیز ډول تر $10,000 پورې محدود دی.
- 30 ناستې که چېرې فرعي (غیر مستقیم) قرباني په پورته ډول یاد شوي معیارونه پوره نه کړي. دا تر $5,000 پورې محدود دی.
- 30 ناستې که چېرې فرعي (غیر مستقیم) قرباني د جرم وروسته د یوه کمعمره قرباني پالونکی (سرپرست) شوی وي. دا تر $5,000 پورې محدود دی او باید د مستقیم قرباني د ګټې لپاره وي.

**د هغو شیانو بیلګې چې موږ ورته اړتیا لرو:**
- د ترلاسه شوي رواني روغتیا درملنې تفصیلي رسیدونه. همداراز، کیدای شي د خدمتونو چمتو کوونکي په مستقیم ډول CalVCB ته بل واستوي.
- د [خدمتچمتو کوونکي لخوا د رواني روغتیا] د بل ورکولو د داخلي بشپړه شوې فورمه، چې د هغوی له لومړي بل سره یوځای وړاندې شي.
- که د بیمې کارول اړوند وي، د دې ثبوت چې د بیمې شرکت ته بل وړاندې شوی دی.

| د بیاادایني ډول | څوک په شرایطو برابر دي؟ | ډېر تر ډېره ګټې |
|---|---|---|
| ***لارښود، اشاره یا خدمتي سپي*** | V | **تر $10,000 پورې** |

**د هغو شیانو بیلګې چې موږ ورته اړتیا لرو:**
- د هغو لګښتونو رسیدونه چې د لارښود، اشارې یا خدمتکوونکي سپي د اخیستلو یا درملنې لپاره شوي وي، که هغه سپی د جرم له امله ټپي شوی وي یا مړ شوی وي.

| د بیاداینې ډول | څوک په شرایطو برابر دي؟ | ډېر تر ډېره ګټې |
|---|---|---|
| *د عاید له لاسه ورکول* | D V | تر $70,000 پورې |

**د هغو شیانو بېلګې چې مور ورته اړتیا لرو:**

- د معلولیت په اړه د طبي یا رواني روغتیا د خدمتچمتو کوونکي لخوا بیانیه.
- د طبي خدمتچمتو کوونکي لخوا ثبوت چې ښیي یو مور، پلار یا سرپرست باید له یوه کمعمره ماشوم سره په روغتون کې وي.
- د عاید اثباتیه سند (د مالیې د بیرته ورکړې فورمه، د معاش رسید یا د ګمارونکي لخوا رسید).

| | | |
|---|---|---|
| *د ملاتړ له لاسه ورکول* | D | تر $70,000 پورې |

**د هغو شیانو بېلګې چې مور ورته اړتیا لرو:**

- د دې ثبوت چې یو کس د جرم په وخت کې له قرباني سره قانوني تړاو درلود (د زېږون یا نکاح سند، د زوی یا لور ولی نیولو/ منلو اسناد، د ماشوم د نفقې اسناد یا د ټولنیز امنیت اسناد).
- د عاید اثباتیه سند (د مالیې د بیرته ورکړې فورمه، د معاش رسید یا د ګمارونکي لخوا رسید).

| | | |
|---|---|---|
| *د انساني قاچاق له امله د زیان جبران* | V | د ډېر تر ډېره دوو کلونو لپاره هر کال تر $10,000 پورې |

**د هغو شیانو بېلګې چې مور ورته اړتیا لرو:**

- د انساني قاچاق له امله د مستقیمي پایلې په توګه د عاید د لهمنځه تلو ثبوت، چې له لاندې لارو څخه په یوه یې وړاندې کېږي:
  - ◊ د قانون پلي کوونکو ادارو راپور یا
  - ◊ په دروغو د شهادت ورکولو په جزا باندې په پوهېدو باندې رسمي بیانیه، چې د متقاضي، د انساني قاچاق د قضیې کارکوونکي، مجاز وکیل، یا د شاهد له خوا ورکړل شوې وي.
- د انساني [قاچاق له امله د زیان د جبران بشپړه شوې فورمه](#).

| | | |
|---|---|---|
| *د دندې د ساتلو یا د ګومارنې ورته خدمتونه* | V | تر $70,000 پورې |

**د هغو شیانو بېلګې چې مور ورته اړتیا لرو:**

- د کالیفورنیا د بیا په پښو درېدو ریاست لخوا ارزونه.

| | | |
|---|---|---|
| *کډه کول* | V | تر $3,418 پورې |

**د هغو شیانو بېلګې چې مور ورته اړتیا لرو:**

- د قانون پلي کونکو ادارو څخه ثبوت چې د قرباني د خوندیتوب لپاره ځای په ځای کول اړین دي.
- د رواني روغتیا د خدمتچمتو کوونکي لخوا ثبوت چې ښیي د قرباني د عاطفي روغتیا/هوساینې لپاره د ځای بدلول اړین دي.
- د ځای بدلولو لګښتونو رسیدونه، لکه کرایه، د خدمتونو (برېښنا، اوبو او نورو) د ضمانت پیسې، یا د لېږد/کډه کولو لګښتونه.
- د کرایې د تایید بشپړ شوې فورمه او د اجارې یوه کاپي.

| | | |
|---|---|---|
| *د کور خوندیتوب* | V D | تر $1,000 پورې |

**د هغو شیانو بېلګې چې مور ورته اړتیا لرو:**

- د هغو لګښتونو ثبوت چې د جرم د مستقیمې پایلې په توګه اړین وي.
- د کور د خوندیتوب د لګښتونو رسیدونه.

| | | |
|---|---|---|
| *د هغو قربانیانو لپاره د کور بدلونونه چې جزوي یا بشپړ معلولیت لري* | V | تر $70,000 پورې |

**د هغو شیانو بېلګې چې مور ورته اړتیا لرو:**

- د ډاکټر له خوا ثبوت چې ښیي د جرم له امله بدلونونه له طبي پلوه اړین دي.
- د بدلون د متخصص له خوا لیکلی راپور.
- د قراردادي لخوا د ترسره کېدونکو کارونو تفصیلي تشریح، د اداینې پلان او د هغوی د جواز یوه کاپي.
- د کور د بدلون (ترمیم/تعدیل) د لګښتونو رسیدونه.

| | | |
|---|---|---|
| *د نقلیه وسیلې بدلون یا پېرل* | V | تر $30,000 پورې |

**د هغو شیانو بېلګې چې مور ورته اړتیا لرو:**

- د ډاکټر له خوا ثبوت چې ښیي د جرم له امله د بدلې شوې یا تعدیل شوې موټر اخیستل یا د موټر بدلون له طبي پلوه اړین دی.
- د قرباني لخوا یوه بیانیه چې پکې تشریح شوې وي آیا عامه ترانسپورت شتون لري او که نه.
- د موټر د بدلون یا اخیستلو لګښت ښودونکی بل یا اټکل.
- د حرکت د متخصص لخوا یوه راپور.
- د هغه کس د موټر چلولو جواز یوه کاپي چې موټر به چلوي.

| | | |
|---|---|---|
| *د جرمي د صحنې پاکول* | P | تر $1,709 پورې |

**د هغو شیانو بېلګې چې مور ورته اړتیا لرو:**

- د دې ثبوت چې جرم په کور (استوګنځي) یا موټر کې رامنځته شوی دی.
- د یو تصدیق شوي د کثافاتو/پاکوالي شرکت لخوا د کور یا موټر د پاکولو لګښتونو رسیدونه.

LEGEND: V مستقیم قرباني · D فرعي قرباني · P ادا کوونکی